د افغانستان اسلامي امارت

# د ملي دفاع وزارت

# د ستراتیژي او پالیسي معینیت

# د دفاعي پالیسي او ستراتیژیک پلان جوړونې ریاست

**د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۶ هـ ق کال کلنی راپور**



بسم الله الرحمن الرحیم

## د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۶ کال د لویو کړنو او عمده لاسته راوړنو مختصر گزارش:

### د اداري پېژندنه:

لکه څرنګه چې جوته ده، د نړۍ په کچه وسلوال پوځونه له هیواد څخه د دفاع، ځمکنۍ بشپړتیا، د ملي نوامیسو، ملي حاکمیت، استقلال ساتلو او ملي ارزښتونو څخه د دفاع او حراست مسئولیت لري.

د امنیت ساتل او دفاع د هر مملکت له اساسي او حیاتي بنیادونو څخه شمېرل کېږي، په همدې اساس د ملي دفاع وزارت د هیواد امنیتي او دفاعي اساس په حیث د امنیت د ټینګولو له پاره د افغانستان له ملي قدرتونو څخه حسابېږي، همدا شان د ملي دفاع وزارت د ټولنې د ټولو اقشارو د اتحاد تمثیلونکی او د مجاهد او جهاد پرور ملت د عزم او ارادې ښکارندوی دی.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت خپله دیني، ملي او تاریخي وجیبه ګڼي، چې د افغانستان اسلامي امارت د رهبري لیدلوري او د هیواد ځمکني سیاسي او ستراتیژیک وضعیت په نظر کې نیولو سره د ملي اسلامي اردو ساختار او انکشاف په داسې ډول تنظیم کړي، چې د افغانستان دفاعي ایجاباتو او اوږدمهاله اړتیاوو ته ځواب ویونکی واوسي او د اسلامي امارت له حاکمیت او هیواد څخه د دفاع ستر مسئولیت ترسره کولو قدرت ولري.

د امینت ټینګولو او مناسبو امنیتي شرایطو د را منځته کولو په نتیجه کې؛ د اړونده نهادونو له لوري په اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې د ملي دفاع وزارت نقش ډېر اغېزمن او رغنده دی.

د ملي دفاع وزارت په اوس او راتلونکي وخت کې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته د شته او احتمالي تهدیدونو له پاره متناسب، پرېکنده او جدي تدبیرونه نیسي، د دې تر څنګ یاد وزارت د ښه ګاونډیتوب،نه مداخلې او متقابل درناوي په اصولو باور لري.

لکه څنګه چې اړتیا لیدل کېږي، د ملي دفاع وزارت د وزارت له قرارګاه او ستر درستیز له قرارګاه سربېره د سیمه ییزو او مرکزي قول اردوګانو د هوایي ځواکونو عمومي او هوایي مدافع قومندانۍ او د ملاتړو او تأميناتي قومندانیتونو درلودونکې ده، چې د هېواد په امنیتي زونونو کې ځای پر ځای شوې دي .

### د ملي دفاع وزارت وظایف او ستراتیژیک نقش:

- اعلاء کلمة الله، د اسلام مبین دین څخه دفاع، د اسلامي او ملي ارزښتونو ساتنه، استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا ساتل.
- امنیت ټینګول، د قانون له نافذولو ملاتړ، د شریعت په چوکاټ کې د انساني حقونو ساتل او د ملي پراختیا او بیارغونې پروژو څخه ملاتړ.
- په ځانګړو حالاتو کې د کورنیو چارو وزارت ملاتړ کول او د بحرانونو او خطرونو په مهال د پولیسو له توان څخه د وضعیت د وتلو په صورت کې د امنیتي ځواکونو سوق او اداره په واک کې اخیستل.
- د نشه یي توکو د کرلو، ترافیک او قاچاق څخه د مخنیوي په برخه کې د ټولو وزارتونو او امارتي ارګانونو ملاتړ کول.

- له ضرورت سره سم د بېړنيو حالتونو، د آفاتونو او هر ډول ناورينونو پرمهال ملکي کسانو ته د مرستو رسول او د ياد ډول ناورينونو د مخنيوي په باب خپل نقش لوبول.
- د هيواد د ښه امنيت او ثبات په موخه د هيواد له دفاعي او امنيتي ارگانونو سره گډې هلې ځلې او همغږي رامنځته کول.

**د ۱۴۴۶ هجري قمري کال په اوږدو کې د ملي دفاع وزارت په مربوطاتو کې په لاندې ډول کارونه ترسره شوي دي:**

## تشکيلاتي جوړښت:

- د ۱۴۰۴ کال له پاره د ملي دفاع وزارت د تشکيلاتي جوړښت بيا کتنه تر سره شوې ده.
- په ۱۴۴۶ کال کې د ملي اسلامي اردو شاوخوا د (۹۵) زره تنه منسوبينو گمارنه او بيا گمارنه تر سره شوې ده .
- د منظور شوي تشکيل سره سم په جنرالي بستونو کې د (۱۳۲) تنه مسؤلينو گمارنه او بيا گمارنه تر سره شوې ده.
- د نظامي او ملکي تعليمي او تحصيلي مؤسسو (۲۱۲) تنه فارغين تثبيت رتبه شوي دي.
- تر معلومې مودې خدمت کولو وروسته (۳۰۸) تنه منصبداران او بريدملان تقاعد شوي دي.
- د ملي دفاع وزارت او ستردرستيز په څانگو کې (۱۸) تنه ان، تي، اې متخصصين او (۲۸۲) تنه بالمقطع کارکوونکي جذب شوي دي.
- په ۱۴۴۶ کال کې د مجاهدينو د پېژندنې او برخليک ټاکلو کميسيون ته د (۲۳۸۹) تنه مجاهدينو د تصفيې پاڼې لېږل شوې، چې له هر اړخيزې څېړنې او ارزونې وروسته (۱۲۱۸) تنه واقعي مجاهدين ثابت او تاييد شوي دي.
- له پنجشېر، تخار او بغلان ولايتونو څخه (۶۷۹) تنه جديد الشمول داوطلبان د ملي اسلامي اردو ليکو ته جذب او د زده‌کړو له پاره تعليمي مرکزونو ته لېږل شوي دي.

## اوپراسيوني کړنې:

- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو منسوبينو لخوا (۹۶۴۳۱۸) (امنيتي، گزمو، کمينونو، چکپاينټونو، تلاشي، تصفيوي عملياتو او اکمالاتي وظايفو) د اوپراسيوني کړنو پلان گزاري او تر سره کول د هيواد په امنيتي زونونو کې د امنيت د تامين باعث، د مواصلاتي لارو د خلاصون او د ثبات ساتنې لامل گرځېدلې او د هيواد اقتصادي ودې لپاره يې مناسبه زمينه برابربه کړې ده .

- ددې فعالیتونو په پایله کې یې (۳۱۰) عرادې ببلا بېل وسایط، (۴۷۷) میله سپکې اسلحې، (۶۸) میله درنې اسلحې، (۳۷۱) حلقې ماینونه،(۱۲۸) قبضې لاسي بمونه، (۵۳) پایې مخابرې، (۴۸۱) قابه دوربینونه، (۳۰۲) عرادې موټر سایکلې، (۹۲) کیلو ګرامه چاودېدونکي توکي، (۵۷۲۳) کیلو ګرامه نشه یي توکي، (۷۰۵) کیلو ګرامه اومان، (۴۳۸۳) قرصه ټابلېټ کا، (۱۶۲) لیټره الکولي مشروبات او یو شمېر نور مهمات تر لاسه شوي دي.

## د سرحداتو ساتنې برخه:

افغانستان د ۲۰ ولایتونو او ۹۰ ولسوالیو له طریقه له ۶ هیوادونو سره متصل سرحد او د ډیورنډ فرضي کرښه لري، د هیواد سرحدي قطعات او جزوتامونه د امنیتي ننګونو د مخنیوي او څواب ویلو په پار په امکاناتو، وسایلو او تجهیزاتو ته په کتو تولې پنځلس سرحدي لواګانې، درې نوي کنډکونه، اوه سوه او پنځه شپیته پوستې مجهزې ځای پر ځای شوي دي.

- د دفاع او پولو ساتنې، له ګواښونو څخه د مخنیوي او پر وخت سره اکمالات کولو په موخه د پولو او ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې سرحدي پوستو ته په ۱۴۴۶ کال کې (۳۴۰) کیلو متره نوي سړکونه جوړ شوي دي.
- د چین، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، پاکستان او ایران هیوادونو سره (۱۳) د همغږۍ مرکزونه موجود دي چې (۷) مرکزونه د اوس لپاره فعال دي او د نورو په فعالولو کار جریان لري.
- د ملي اسلامي اردو د سرحدي لوا ګانو د منسوبینو لپاره فوق العاده کورسونه دایر شوي دي.

## د پالیسیو برخه:

- د ملي دفاع وزارت د بېلابېلو برخو ۴۲ عنوانه پالیسي ګانې او طرزالعملونه له شرایطو، اړتیاوو، د ملي دفاع وزارت له تشکیلاتي جوړښت او د افغانستان اسلامي امارت له لیدلوري سره سم تدوین او مرور شوي دي.

## د ښوونې او روزنې برخه:

- د ملي اسلامي اردو د منسوبینو ښوونه او روزنه یو له هغو بنسټیزو عواملو څخه ده، چې په مټ یې د ملي اسلامي اردو توانایي او پرمختګ صورت مومي، همدا راز د استقلال ساتنې، ځمکنۍ بشپړتیا، د نوامیسو ساتنې او د هیواد اسلامي او ملي ارزښتونه د خوندي کولو په برخه کې د ځواکونو کړنې اغېزمنې تمامېږي، په همدې بنا ملي دفاع وزارت هڅه کړې ده، چې د ملي اسلامي اردو منسوبین په تحصیلي او تعلیمي مرکزونو کې زده کړې تر لاسه کړي او دندو ته ادامه ورکړي.

- د حضرت عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) د جګړه ایزو ګډو زده کړو قوماندانۍ په تشکیل کې د دافعهوا او زرهدار نوی ډیپارټمنټ را منځته شوی دی.
- (۸۹) تنه ډاکټران د تخصص د اکمال په پروګرام کې تر تدریس لاندې دي.
- د روغتیا په بېلا بېلو برخو کې (۱۸۲) تنه په زده کړو بوخت او (۶۰) تنه فارغ شوي دي.
- د حضرت عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) د جګړه ایزو ګډو زده کړو قوماندانۍ له بنسټیزو او مسلکي زده‌کړو څخه (۱۰۲۸۲) تنه د ملي اسلامي اردو منسوبین فارغ شوي دي.
- د حضرت ابو عبیدة بن الجراح (رضي الله عنه) ملي دفاع پوهنتون له اکاډمیو څخه (۱۵۱۱) تنه فارغ شوي دي.
- د مرکز او سیمه ایزو قول اردو ګانو د تعلیمي مراکزو له بنسټیزو تعلیمي کورسونو (معسکراتو) څخه (۲۳۲۷۱) تنه د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو منسوبین فارغ شوي دي.
- د ملکي خدمات د ۳۶۰ تنه کارکوونکو لپاره ۲۱ زدکړه ایزې برنامې دایرې شوې دي.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو کم لوستو بریدملانو او نا لوستو عسکرو ته د سواد زده کړې نهه میاشتني کورسونه دایر شوي دي، چې په پایله کې یې ۵۵۶۳ تنه له دې کورسونو فارغ شوي دي او په ۱۱۸۷۱ تنه د زده‌کړو په حال کې دي، د یادو کورسونو په تدویر سره د ملي اسلامي اردو کم لوستي بریدملان او نا لوستي عسکر د زدکړو له نعمت څخه برخمن او د زدکړې کچې لوړتیا هغوی په مسلکي تعلیماتو لاس بري کوي او له بلې خوا د هغوی په شخصي ژوند کې یې مثبت بدلون راوستی دی.
- د سواد زده‌کړې ۴۳۰۰۰ ټوکه کتابونه د مخابرې او معلوماتي ټکنالوژي ریاست په مطبعه کې چاپ شوي او له پلان سره سم مرکزي او ساحوي قطعاتو او جزوتامونو ته وېشل شوي دي.
- په بېلابېلو بخشونو کې د ملي دفاع وزارت د منسوبینو د وړتیاوو لوړولو، د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې تګلاره او د نشه یي توکو له کارونې څخه د مخنیوي ستراتیژیک لارښود تشریح او توضیح په موخه سیمینارونه دایر شوي دي.
- د دوولسمو ټولګیو پنځه سوه تنه فارغان د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه د ملي نظامي اکاډمۍ لومړي ټولګي او پنځه سوه دوه دیرش تنه فارغان د حضرت اسامه بن زید المزني رضي الله عنه د ځوانو منصبدارانو له اکاډمۍ او دوه سوه تنه د نهم ټولګي زده کوونکي د حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه د حربي ښوونځي لسم ټولګي ته جذب شوي دي .

## د مالي او بودجې برخه:

- له آفمیس سیستم (د افغانستان د مالي معلوماتو د مدیریت سیستم) څخه استفاده، مرکزي بانک ته د ملي دفاع وزارت له لوري په شفافیت سره د مجاهدینو او ټولو کارمندانو د معاشونو د اجرا کولو په موخه د مالي وجوهو حواله کول او د ۱۴۰۳ مالي کال د قطعي مصارفو وروستی راپور له چمتو کولو وروسته د مالیې محترم وزارت ته لېږل.
- د ملي دفاع وزارت د ۱۴۰۳ مالي کال عادي او پراختیایي بودجه چې د افغانستان اسلامي امارت له کورنیو سرچینو جوړه او د مالیې محترم وزارت له لورې د دې وزارت په واک کې ورکړل شوې وه، ۸۷٪ سلنه یې جذب شوې ده.
- د 1446 کال په اوږدو کې ۷۴٬۱۲۹٬۵۳۳ مبلغ افغانۍ خالص عواید راټول او د ملي دفاع وزارت حساب ته لېږل شوې دي.
- د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې ۴۹۵٬۲۷۰،۰۸۶ افغانۍ د ۱۴۰۰ څخه تر ۱۴۰۳ مالي کلونو باقیات تصفیه او اسناد یې د مالیې محترم وزارت ته استول شوي دي.
- تر دې دمه د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو ۷۰٪ منسوبین د مالیې محترم وزارت په **ټي پي ام ایس** (د خزاینو د معاشاتو د مدیریت سیستم) کې ثبت او راجستر شوي دي او دا لړۍ دوام لري.
- د ۱۴۴۶ کال په اوږدو کې د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د منسوبینو د اسانتیا په خاطر ۲۵ بانکي مرکزونه پرانیستل شوي او څلور پایې ATM ماشینونه نوي نصب او فعال شوي دي.

## عقیدتي او فرهنګي برخه:

- د ملي دفاع وزارت په قرارګاه کې د وزارت او ستردرستیز ټولو منسوبینو ته اصلاحي درسونه او دیني تعلیمات ورکړل شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو ټولو قطعاتو او جزوتامونو کې هره اونۍ ۳ ورځې مختلفو کټګوریو (منصبدارانو، بریدملانو او عسکرو) ته عقیدوي او کلتوري درسونه ویل شوي دي، دې کار دوی ته له ملي حاکمیت څخه د دفاع کولو، ځمکنۍ بشپړتیا، استقلال، ملي نوامیسو او اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې انګېزه ورکړې ده.
- د نبوي سیرت د کتاب د تدوین په موخه د نورالیقین عربي کتاب ۳۳۳ مخه ژباړه ترسره شوې ده.

## د زېربناوو جوړولو برخه:

- په قطعاتو او جزوتامونو کې د ۱۹ محرابه جوماتونو د ودانولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

- د ملي اسلامي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې د منسوبینو له پاره د ښځاک د پاکو اوبو برابرولو په موخه ۲۰ حلقې څاه ګانې کیندل شوې دي.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د انجینري برخې د منسوبینو له لورې د قطعاتو او جزوتامونو د مسئولیت په ساحو کې ۵۴ کیلومټره نوی سړک جوړ شوی دی.

## د هوايي قواوو برخه:

- د هوايي او هوايي مدافعې قواوو عمومي قومانداني له خوا ۶۳۸۳ وظيفوي او تعليمي الوتنې ترسره شوې دي، چې په پايله کې يې د رهبري مقاماتو، د ملي دفاع وزارت د منسوبينو او د امنيتي برخو د هيئتونو په شمول ۱۴۳۱۹ تنه مسافر او ۵۷۸۷۳ کيلوګرامه وزن انتقال شوی دی.
- د تېر کال په جريان کې ۱۲۴۴ تنه د هيواد د هوايي قواوو منسوبين له مسلکي کورسونو څخه فارغ شوي دي.
- د ۷ باله مي – ۱۷ چورلکو بيارغونه ترسره شوې او د يو بال N-32 الوتکې ريسورس تمديد شوی دی.

## د روغتيايي خدماتو برخه:

د هيواد د امنيتي او دفاعي ارګانونو منسوبينو او د هغوی د کورنيو غړو ته روغتيايي خدمات وړاندې کول او د هيواد د امنيتي او دفاعي ارګانونو ټپيانو ته رسېدنه کول د ملي دفاع وزارت له اولويتونو څخه دی، ټول مرکزي او ساحوي شفاخانې او کلينکونه (د سردار محمد داود خان شفاخانه، د سهيلا صديق د نسايي او ولادي او د اطفالو شفاخانه، شفاخانه ضميموي نمبر۲، مرکزي پولي کلينيک، پنځه سل بستريزه ساحوي شفاخانې، دوه پنځوس بستريز تړاما سنټرونه، ۵۱ کلينکونه او ۲۴۰ روغتيايي مرکزونه) د ملي دفاع وزارت په قطعاتو او جزوتامونو کې فعال دي او د امکان تر کچې مجهز دي، دغه مرکزونه د افغانستان اسلامي امارت د امنيتي او دفاعي ارګانونو د منسوبينو له پاره په معياري او وړيا توګه خپل خدمات وړاندې کوي.

- د يوه کال په اوږدو کې ۱۵۴۲۳۹۴ تنه ناروغانو روغتيايي مرکزونو ته مراجعه کړې ده، چې له جملې څخه يې ۱۵۲۷۱۳۰ تنه ناروغان په بشپړه توګه تداوي او ۱۵۲۶۴ نور ناروغان بستر شوي دي.
- ۱۰۵۳۰ شمېر جراحي عمليات تر سره شوي دي.
- ۱۱۳ شمېر د زړه عمليات او پروسېجرونه تر سره شوي دي.

- د غوړونو او غاړې خدماتو ته پراختيا ورکول شوې او د پېچليو او سختو پروسيجرونو د اجرا په موخه د نويو روغتيايي آلات اکمال شوي دي.
- د نظامي طب فاکولته د کابل له طبي پوهنتون څخه د صحي قومانداني د طبي علومو اکاډمۍ قومانداني ته انتقال کړل شوه.
- د هغو ناروغانو لپاره چې په مختلفو سرطاني ناروغيو اخته وي په سردار محمد داوود خان روغتون کې د تشخيص او تدواي په موخه د اندوکراينولوژي بخش نوی ايجاد شوی دی.
- په سردار محمد خان روغتون، مرکزي پولي کلينيک او د ملي اسلامي اردو د مرکزي او سيمه ايزو قطعاتو او جزوتامونو په روغتونونو او صحي مراکزو کې (۵۵۵) پايې طبي ماشينونه ترميم شوي او اړونده مراجعو ته سپارل شوي دي.
- معلولينو ته خدماتو وړاندې کولو په موخه د العمر بيا رغونې مرکز پراختيا ورکول
- د العمر په مرکز کې (۴۰) تنه معلولينو ته مصنوعي اعضاء جوړ شوي او د (۳۰) تنو لپاره د مصنوعي اعضاوو د جوړولو او ترميم کار جريان لري.
- (۱۳) تنه معلولينو ته ويلچرونه توزيع او (۳۵) تنه معلولين د مصنوعي اعضاوو د جوړولو او طبي مالزمې او ساده ويلچرونو په موخه سره صليب کمېټه ته ور پېژندل شوي دي.
- (۴۵) تنه معلولين د مصنوعي اعضاوو د جوړولو په موخه (ارتقاء) خصوصي مؤسسې ته ور پېژندل شوي دي.

## د مرستو رسولو برخه:

د ضرورت او اړتيا په وخت کې ملکي خلکو ته په اضطراري حالتونو، آفتونو او ټولو ناورينونو په وخت کې مرستې رسول د ملي اسلامي اردو له دندو څخه دي، د ۱۴۴۶ کال په اوږدو کې د ملي دفاع وزارت ملکي خلکو ته د مرستو وړاندې کولو په برخه کې لاندې کارونه ترسره کړي دي:

- له کوم وخت څخه چې له پاکستان هيواد څخه د کډوالو د اجباري را ايستلو لړۍ پيل شوې ده تر نن ورځې د ملي اسلامي اردو (۶۰) عرادې وسايط او (۲۰۰) تنه منسوبين د آسانتياوو او د دوی د انتقال په ګمارل شوي دي او خپل مسؤليت په ښه ډول تر سره کوي.
- د هيواد په بېلا بېلو برخو کې چې هيوادوالو ته په آفتونو کې زيانونه رسېدلي وو، د ملي دفاع وزارت لخوا ورسره د (۱۲) ميليونه افغانيو مرسته شوې ده.

- د تېر کال په اوږدو کې د هیواد په مختلفو ساحو کې د ملکي خلکو له پاره ۱۱۹۱ کیلومیټره سړک جوړ (ودانول، جغل اچونه او هوارول) کړل شوی دي.
- د هیواد په بېلابېلو نقطو کې د ۴۹۲ کیلومیټره په اوږدوالي هغه سړکونه چې د واورې وربېدو له امله بند شوي وو، بېرته پاک کړل شوي او د ترافیک په مخ کې خلاص شوي دي.
- د کابل ولایت په ماهیپر ولسوالۍ کې ۴۲ میټره اوږد استحکامي پل، د تخار ولایت په چال ولسوالۍ کې ۳۰ میټره اوږد استحکامي پل او د بدخشان ولایت په کران منجان ولسوالۍ کې ۳۶ میټره اوږد اسحکامي پل جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
- د بدخشان ولایت کران منجان ولسوالۍ د اسکازر کلي د ۱۳۰۰۰ جریبه زراعتي ځمکې لپاره ۴۲۰۰ میټره اوږد او ۲۰ میټره پلن د اوبو کانال جوړ شوی او ۱۱۰۰ میټره د اوبو ویالې رغول شوې دي.

## د شفافیت او حساب ورکولو برخه:

- د شفافیت رامنځته کول او حساب ورکول هم د ملي دفاع وزارت له لومړیتوبونو څخه دی، د ۱۴۴۶ کال په جریان کې دې وزارت هڅه کړې ده، چې د مالي، اداري او تدارکاتي سیستمونو د اصلاح او منظمې پلټنې له لارې د ملي اسلامي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې شفافیت رامنځته کړي او د مالونو او ملي بودجې د ضایع کېدو مخه ونیسي.

**د تعلیم او تربیې برخه:** د تفتیش له کلني پلان سره سم د هغو (۶۵) تنه منسوبینو لپاره چې نوي په قطعاتو او جزوتامونو کې د مفتشینو په صفت مقرر شوي وو، (۳) دورې بنسټیز کورسونه په بریالیتوب سره دایر شوي دي.

**د شکایتونو اورېدلو برخه:** د تېر کال په لومړۍ ربعې کې (۵۲۱۳۷) قطعې شکایتونه د سرمفتشیت د شکایتونو د اورېدو (196) واحد مرکز لخوا اخیستل شوي، چې له جملې څخه یې (۵۱۴۲۴) قطعې شکایتونه نا وارد وو، چې د موضوع په اړه یې شکایت کوونکو ته لارښوونه شوې ده، (۷۱۳) قطعې شکایتونه وارد ثبت شوي، چې د اړوندو مراجعو له خوا ورته رسېدنه شوې ده.

**د پلټنې د ټیمونو ګومارل:** په اداراتو او مرکزي او ساحوي قطعاتو او جزوتامونو کې د تېر کال په اوږدو کې ۲۹۷ د پلاني تفتیش، ځانګړي، تعقیبي او کنټرولي ټیمونه ګومارل شوي دي، په پایله کې یې د ۶،۵۳۶،۳۸۴،۴۱۷ شپږ ملیارده، پنځه سوه شپږ دېرش ملیونه، درې سوه څلور اتیا زره، څلور سوه او اولس افغانیو وسلې، وسایط، نظامي تجهیزات، لوژیستیکي اجناس، مفروشاتي، تعمیراتي او نور جنګي او لوژیستیکي توکي چې د قید او ذمت شوي نه وو، د کیفي مضبطې له مخې د امارت په ګټه قید او ذمت شوي دي.

## د حقوقو او جنايي څېړنو برخه:

- د ملي اسلامي اردو منسوبينو ته د شخړو او وسله والو نښتو په مهال د جنګي قوانينو او د شريعت په چوکاټ کې د انساني حقوقو د ټولو معيارونو په هکله پوهاوی ورکول هم د ملي دفاع وزارت له بنيادي دندو څخه دی.
- دا چې د اسلامي امارت له مبينې فتحې وروسته په ټول هيواد کې امنيت ټينګ شوی دی او محاربوي فعاليتونو ته اړتيا نه شته، ځکه اوس د ملکي افرادو د تلفاتو کچه صفر ته را ټيټه شوې ده.
- د ۱۴۴۶ کال په اوږدو کې؛ په ټوله کې (۵۷۸) ټوکه جزايي دوسيې، چې مظنونين او متهمين يې (۸۶۲) تنه دي د ياد رياست د مستنطقينو له لورې څېړل شوي دي، چې له جملې څخه يې:
  - (۳۸۱) ټوکه جزايي دوسيې چې متهمين يې (۵۹۶) تنه دي، د حکم کولو په موخه ذيصلاح نظامي محکمې ته لېږل شوې دي.
  - (۱۳۶) ټوکه جزايي دوسيې چې (۱۶۸) تنه په کې متهم ګڼل شوي، د تحقيقاتي نيمګړتياوو، نواقصو، د څېړنې صلاحيت د نه شتون او عدلي تعقيب ته د نه اړتيا ( قضيه د تخلف په حد کې وه) له کبله بيا ځلې اړونده مراجعو ته مسترد شوې دي.
- د ملي اسلامي اردو د عدلي او جنايي برخې منسوبينو د وړتياوو لوړولو او په حقوقي برخه کې پوهاوي ورکولو لپاره ۶ دورې زده‌کړه ايز سمينارونه داير شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو منسوبينو ته د چاپېريال ساتنې او حفظ الصحې پاک ساتلو په موخه ۴۲ زده‌کړه  ايز سمينارونه داير شوي دي.

## د قطعاتو او جزوتامونو د اکمالولو برخه:

- په ۱۴۴۶ کال کې (۱۶۴) قراردادونه عقد شوي دي.
- (۲۲۹۶۸۰) جوړې پلنګي دريشی، (۱۰۰۰) جوړې تشريفاتي دريشی، (۷۰۰۰)جوړې د ډاکټرانو او ناروغانو البسې، (۱۵۸۰۰) ثوبه د ژمي تاوده جمپرونه او (۱۵۰)څادره بيرغونه او علم مبارک ګنډل شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو د مطبعې بيلا بيل ماشينونه چې وراندې له کاره لوېدلي وو، د تېر کال په لړ کې د تخنيکي ټيم د هڅو او کوښښونو په پايله کې بيا فعال شول، چې د ملي اسلامي اردو د مطبعې اړتياوې پوره کوي .
- د بيت المال ساتنې په موخه په مرکزي ورکشاپونو کې (۴۱۶۸۴) عرادې ببلا ببل وسايط، (۶۴۸۰) ميله سپکې او درنې وسلې او (۷۲۴) پايې مخابرې جاري، وسطي او اساسي ترميم شوې دي.

## د ستراتیژیکو اطلاعاتو او نشراتو برخه:

د ملي دفاع وزارت د ویاند دفتر یا د ستراتیژیکو اطلاعاتو او نشراتو ریاست چې د ملي اسلامي اردو د منسوبینو دیدګاه، کړنو او لاسته راوړنو ته د انعکاس ورکول مسئولیت لري، تر اوسه پورې توانېدلی دی، چې له مروجو لارو او د معاصرې ټکنالوژي (چاپي خپرونو، وېبپاڼو، شبکو او ټولنیزو رسنیو، راډیو او ټیلویزیون، مرکو، خبري کنفرانسونو، د ملکي خلکو د ملاتړ، تبلیغاتي لارو چارو او هر ډول د اطلاع رسولو) له طریقه له اړونده ادارو سره په همغږۍ د ۱۴۴۶ کال په جریان کې لاندې عمده فعالیتونه ترسره کړي.

- د افغانستان اسلامي امارت د مبینې فتحې د دریېمې کلیزې د لمانځلو مراسمو، هیواد ته د استقلال بیا راګرځولو په مناسبت د زمري ۲۸ مې د درناوي مراسمو، د منسوبینو فراغت غونډو، د افغانستان اسلامي امارت د لوړ پوړو مشرانو په توسط د ستر درستیز په روغتیا قوماندانۍ کې د نویو روغتیایي مرکزونو د پرانیستې مراسمو او له ملي دفاع وزارت رهبرۍ سره د بهرنیو هیوادونو د استازو او ډیپلوماټانو لیدنو او کتنو ته خبري پوښښ ورکړل شوی او د ملي دفاع وزارت په رسمي پاڼو کې خپاره شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو د منسوبینو د ملاتړ، روحیې او پیغامونو په موخه د ملي اسلامي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې (۹) راډیو سټېشنونه فعال دي او نشرات کوي.
- د ملي اسلامي اردو د منسوبینو د تمریناتو، تطبیقاتو، نمایشونو، کومک رسولو، د شمولیت ازموینو، فراغت غونډو، کړنو او لاسته راوړنو د جریاناتو په هکله ۱۲۴ انځوریز کلیپونه جوړ او د ملي دفاع وزارت د رسمي پاڼو او خصوصي رسنیو له لارې نشر شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو ۵۲ برنامې او د مرکزي او ساحوي قطعاتو او جزوتامونو د منسوبینو ۱۱ انځوریز مستندات جوړ او د ملي راډیو ټیلیویزون او د یاد وزارت له رسمي پاڼو څخه خپاره شوي دي.
- د کال په هره ربعه کې د اردو یوه فصلنامه جوره او (۱۰۰۰) جلده چاپ او په هره میاشت کې (۱) د دفاع نشریه جوره او (۱۰۰۰) نسخې چاپ او وېشل شوې دي.
- د ملي دفاع وزارت له پیغامونو، شعارونو او د ا.ا.ا رهبري له لیدلوري سره سم بلبورډونه چاپ او په مرکز او د هیواد په نورو ولایتونو کې نصب شوي دي.

## د ۱۴۴۷ کال له پاره د ملي دفاع وزارت عمده پلانونه:

- د هیـواد په امنیتي زونونو کې (د مرکـزي او سیمه ایزو قوماندانیتونو د تکتیکي پلان مطابق د بندرونو، لویو ښارونو او لویو لارو په ګډون) د ثبات او ساتنې عملیات ترسره کول.
- په بېلا بېلو برخو کې د ملي اسلامي اردو وړتیاوو ته انکشاف ورکول.
- د پالیسیو، لارښودونو او طرزالعملونو تدوین او مرور کول.
- امنیتي او دفاعي اړتیاوو ته په کتو د وړتیاوو رامنځته کولو په موخه د افغانستان د ملي اسلامي اردو د ساختار تشکیلاتي مرور او بیاکتنه.

له اړتیا سره سم د نویو ذخیرو او ډیپوګانو او تاسیساتو ودانول او انکشاف ورکول.

د هیواد له دفاعي او امنیتي ارګانونو سره په همغږۍ د ملي اسلامي اردو استخباراتي وړتیاوو ته ارتقاء ورکول.

- د هیواد په زیان منونکو سیمو کې د اوپراسیوني کړنو پلانګذاري او د فعالیتونو اجرا کول.

د احضاراتو د کچې لوړول او د دورانیو تطبیقول( ښوونه او روزنه، اوپراسیونې کړنې او رخصتۍ)

- د ملي اسلامي اردو د شهیدانو او معلولینو په ورثاوو پوښتنه کول او د هغوی حقوق او امتیازات په خپل وخت ورکول.
- د منظور شوې بودجې په نظر کې نیولو سره په بېلابېلو برخو کې د معیشتي، مالي، لوژیستیکي، روغتیایي او ساتنې او پالنې چارو اجرا او پر مخ وړل.

## د افغانستان مؤمن، مجاهد او جهاد پال ولس ته د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت کلیدي پیغام:

ملي دفاع وزارت د هیواد د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ساتلو په موخه د محکم سنګر په توګه فعالیت کوي.

زه په پوره ژمنتیا د وسلوالو ځواکونو د لوی درستیز په توګه دا پیغام تاسو زړور او مجاهد ولس ته وړاندې کوم:

امنیت، بیا رغونه او د سرحداتو ساتنه د سیمې د ثبات درې مهمې ستنې دي او له دې بغیر امنیت ناشونی دی، که سرحدات خوندي نه وي ازادۍ او خپلواکۍ هیڅ مانا نه لري.

د ملي دفاع وزارت په دې باور لري، چې د هیواد ارضي تمامیت ساتل زموږ د مجاهد ولس د هوسایني، د ټولنې سوکالۍ او اقتصادي پر مختګ یوازینی تضمین دی، باید هیڅ ډول مغرضو اشخاصو او کړیو ته د نفوذ اجازه ور نه کړو او د پرمختګ لپاره ازاده او خوندي فضا رامنځته کړو.

ستاسو زړور اولادونه د ملي اسلامي اردو په ليکو کې شپه او ورځ په غرونو، دښتو او د ګران هيواد په ګوټ ګوټ کې د ايماني غيرت، سرښيندنې او پوره اخلاص سره د هيواد له سپېڅلې خاورې دفاع کوي.

د ګران هيواد مؤمن ولسه!

دښمن هڅه کوي، چې په دروغجنو تبليغاتو او شايعاتو ستاسو اذهان ګډوډ کړي، خو هغوی درک نه لري، چې زموږ د مجاهد ملت او دفاعي ځواکونو يووالی، ايماني باور او له دين او خاورې سره ژوره مينه يو نه ماتېدونکی قوت دی، ملي دفاع وزارت د شته امکاناتو په رڼا کې او ستاسو درانه ملت په ملاتړ ژمن دی، چې هيڅ ګواښ به بې ځوابه پرېنږدي او هيڅ تېری به ونه زغمي.

موږ له ټول ولس څخه؛ که مشران دي که ځوانان، علماء دي که محصلين، تاجران دي يا د رسنيو کارکوونکي، غواړو چې د ملي يووالي د پياوړتيا، د امنيت ترويج او د خپل ګران هيواد د ساتنې لپاره د امنيتي او دفاعي ځواکونو ترڅنګ ودرېږي، ځکه چې د اسلامي نظام دفاع د هر آزاد او مؤمن افغان شرعي، ملي او وجداني مسئوليت دی.

په پای کې د ملي دفاع وزارت يوځل بيا ټينګار کوي:

تر هغه چې يو افغان ژوندی وي او دا ملت متحد وي د دې خاورې په سر به هيڅ تېری بې ځوابه پاتې نه شي.

په پورتنۍ شرحه د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۶کال د لويو کړنو او لاسته راوړنو ګزارش جوړ او ستاسي محترم مقام ته وړاندې کيږي.

**والسلام**

**مفتي عبدالمتين "ياسين"**

د ګذارشونو د تحليل او ارزونې او د راپورونو د توحيدولو مدير

**مولوي محمد مستقيم "حقاني"**

د دفاعي پاليسي او ستراتيژيک پلان جوړونې رئيس

**مولـوي محمد قاسم "فـريد"**

د ملي دفـاع وزارت د ستراتيژي او پاليسي معين

**ترتیب کوونکی :** مفتي عبدالمتین یاسین د ګزارشونو د تحلیل او ارزونې او د راپورنو د توحیدولو مدیر

**د اړیکو شمېره:** 0202660865 – 0202660486 **برېښنالیک:** A.M.Yasin@mod.gov.af